محمد هارون خپل شعشعي

۱۱ نومبر ۲۰۱۱


## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او ژباړنه
## ۲۱

**۴۰- حُضُور او غيبت :**

په اسلامي تصوف او عرفان کې د حُضُور مانا داده، چې د الهي ديدار او پتوحقيقتوپلتونکی سالک بايد يوازې د خپل واقعي معبود په ذکر او فکر لګيا يي (وي) . د عارفانو په وينا، هغه څوک چې په زړه او اروا، د ناسوتي عالم په مُردار ډنډ کې غوټې وهي، هيڅکله ديدار ديدار او وصال ته نه رسيږي[۱] . د اسلامي تصوف او عرفان خوړ ژبی نظريه پرداز - عزيزالدين بن محمد النسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) باور لري، تر هغه مهاله چې د خدای دوستي تول زړه ونه نيسي، انسان يو لوری او يوه قبله نه مومي . ترڅو انسان يو لوری او يوه قبله پيدا نه کړي، نه حضور مونډلای سي ؛ او نه له خپل ښتن سره راز او نياز کولای سي ( لا صلوة الا بحضور قلب) . دی زياتيي: هر څوک چې په ګرده عُمر کې، يوه پلا په حضور سجده وکړي، هغه خپل کار بشپړ کړئ دئ . بالعکس، هغه څوک چې په ژوند کې، هره ورځ زر رکعته بې حضوره لمونځ کيي، په حقيقت کې بې هيڅ کار هم نه دئ کړئ[۲] .

د« سِلک السُلُوک » د عرفاني کتاب ليکوال - خواجه ضيأ الدين نخشبي ( په ۷۵۱ هـ ق کې د هندوستان په بدايون کې مړ) د حضور او غيبت په باب داسې ظريفانه فلسفي او عرفاني نظر وړاندې کيي : « په ظاهري دونيا کې هرهغه څوک، چې په حضور کې دوست يي، هغه په غيبت کې نه يي؛ مګر هر څوک چې په حضورکې دوست سو، هغه په غيبت کې ولوېدئ . په دې ډول تر څو سالک ځان غايب نه کړي، له دوست سره به حضور و نه مومي . له غايب سره غايب او له حاضر سره حاضر کسان ډير يي؛ خو عارف تل حاضر غايب يي[۳] .» ځينو

عارفانو او صوفيانو غيبت، د سُکر يا بې هوښى؛ او حضور د صحو په څېر ګڼلئ دئ[۴] . لکه څنګه چې د خواجه نخشبي، په عالمانه او فلسفي بيان کې له ورايه ښکاري، د يا ر د حضور لومړنى شرط ، له دونيا او نورو تعلقاتو څخه پرېکون دئ . له همدې امله دئ، چې عارفان د خپل معبود په مينه کې، د حضور موندلو دپاره له خلګو ، دونيا ، عقبا او هر ډول اړيکو څخه زړونه پرې کيږي .

غيبت د حضور پر خلاف، هغه حالت دئ، چې د سالک زړه او اروا، د بېلابيلو حجابو تر اغېزې لاندې، د خپل ريښتيني معشوق له هميشني ياد او سوځونکي ميني څخه ونورو لورو ته ځغلي . حضور او غيبت، فکري او مانوي ( معنوي) مسألې دي . ممکنه ده د تصوف او عرفان لاروى عملاً د الهي عشق پر ميدان ناست يي؛ خو داصلي او واقعي ميني پر ځاى، د دونيا يا آخرت په لوموکي بند يي . داسي حالت د عار فانو په نظر حضور نه، بلکي غيبت دئ .  د عارفانو توپير له نورو کسانو څخه دادئ ، چې تل له يار سره حاضر ؛ اوله اغيارو سره غايب يي؛ په داسي حال کي چې نور خلګ له اغيارو سره  حاضر؛ خو له ياره سره غايب يي . عارف په هر غيبت کي حاضر؛ او په  هر حضور کي  غايب يي .

علي محمد مخلص هم په خپل عرفاني د يوان کي، د حضور او غيبت د عرفاني مسألي په اړه  ډېر په زړه پوري ټکي وړ اندي کړي دي . هغه په يوه مناجات کي د الله تعالى حضور د ځان دولت او غيبت يې د ځان رنځ او خواشيني ګڼي :

لوى دولت ستا حضوري ده په غيبت کښي ضروري ده

په ضرور زړګى دلګير شي د دلګير د زړه سجنه !

د همدي مناجات په يوه بل بيت کي دا ډول حضوري خپل مُراد او مقصود بولي :

د فقير مُراد حاصل کړى له مقصوده يې واصل کړى !

حضوري د زهير خواست دئ د زهير د زړه سجنه  !

مخلص، د حضور لمونځ دمؤمن دزړه معراج بولي :

په حضور نمونځ  د مؤمن دزړه معراج دئ

چې په غولي يې د زړه عرفان ســـــراج دئ

په يوه بله غزله کي، بې حضوره لمانځه ته د بې نمازى په سترګه ګوري :

د صلوة د ښي واروه که مؤمن يـې !

چي د زړه په حضور نمونځ  نه که بې نماز شي

مخلص، قناعت  دجمعيت او فراغت د  لومړي شرط په توګه ګڼي؛ او د هغه چا ټول عبادت بې ګټي بولي، چي د زړه  فراغت نه لري :

ت  توانګر په زړه قانع شه

چي پرېشان زړه يې جـا مع  شه

چي يي زړه فراغت نـه وي

کُل طاعت، نمونځ يې ضايع  شه

زړه هاله فراغت مومي

چي عارض ځني مانع  شه

يو دنيا عارض بل خلق

هم يې نوس، شيطان قاطع شه

د مخلص د عرفاني نړۍ لېد له مخې، سالکان يوازې د حق تعالی په ذکر او فکر سره کولای سي، د هر ډول عوارضو له جاله ووزي؛ ځان هېر؛ او تل د خدای تعالی بې مثله هستي پر زړه حاضره کړي :

چي يې زړه مشغول په ذکر کښې همېش دئ

هغه کس حاضر وحق غايب له خوېش دئ

بل ځای همدا خبره داسي بيانيي :

که په هر زمان خبر واخلي له د مه

جمعيت به د زړه بيا مومي اتمه

جمعيت د حق په ذکر کښي دئ قطعي

دا خبره په قرآن کښي ده رقمه

**دنور مالومات دپاره وګورئ : ذکر او فکر.**

لمنليکونه

١ عميد ٩٤٧ .

٢ نسفی، انسان الکامل ٣٤١ .

٣ نخشبی ١٢ .

٤ نخشبی ١٢.

**٤١- حقيقت :**

عارفان او متصوفين ، حقيقت هغه پوهه بولي، چي موخه او مقصد يې د الله سبحانه و تعالی پېژندل دي . هغوی دې ډول پوهې ته درسېدو دپاره، ځانونه له زده کړي او تکليف څخه بې نيازه ګڼي . په بل عبارت، دا پوهه د خدای تعالی له خوا وعارفانوته بې واسطې يا مخامخ عطأ کيږي . ځينو عارفانو شريعت، طريقت او حقيقت د بادام له پوست او مغز سره ورته بللي دي . په دې مانا، چي شريعت پوست، حقيقت مغز او طريقت هغه څه دئ، چي د پوست او مغز ترمنځ واقع دئ ١ .

وتلي عرفاني لاربښود- ابوالحسن علي هجويري ( په ٤٦٥ هـ ق کي مړ ) په خپل مشهور اثر « کشف المحجوب » کي شريعت او حقيقت د يوه شي دوی نه بېلېدونکي برخي ګڼي . د ده په عقيده، شريعت، حقيقت دئ؛ او حقيقت، شريعت . ورسته د شريعت او حقيقت ترمنځ ځينو نازکو توپيرو ته داسي اشاره کيي :« حقيقت د هغي مانا تعبير دئ، چي په هغي کي هيڅ ډول بدلون او اوښتون روا نه دئ؛ لکه د خدای تعالی پېژندنه . په داسي حال کي، چي د شريعت حُکمونه او امرونه تل له يوې بڼي څخه بلي بڼي ته اوښتي دي . له همدې امله، شريعت انساني فعل دئ؛ خو حقيقت تل د لوی ښتن له خوا ساتل سوئ؛ او ساتل کيږي . د شريعت له ساتني پرته، د حقيقت موندنه او قيام ناممکن کار دئ . شريعت بې حقيقته ريا؛ اوحقيقت بې شريعته مُنافقت دئ . شريعت او حقيقت دواړه د جسم او اروا په څېر دي٢. »

بل مفکر عارف - شېخ عزيزالدين نسفي (٦٣٠ - ٧٠٠ هـ ق) شريعت د انبياووخبري؛ طريقت دانبياوو عمل؛ او حقيقت د انبياوو ليدنه بولي، چي لومړی اقوالي، دوهم افعالي؛ او دريم احوالي بنه لري . دده په نظر،

هغه څوک چي دا دري مقامونه یا صفتونه ولري، کاملان ګڼل کیږي؛ او هغه څوک چي په دې درو کي یو هم نه لري، د ناقصانو په ډله کي راځي[3].

د علي محمد مخلص عرفاني پیر، بایزید روښان اورمړ انصاري، حقیقت د خپل عرفاني سیراو سُلُوک، دریم مقام ټاکلئ دئ . د پیر روښان د عرفاني نړۍ لید له مخي، حقیقت د پیغمبرانو حال ته ویل کیږي، چي هغه پټ او همېشنی ذکر دئ[4] . همدغه راز، پیر روښان د خدای همېشنی یاد، پر خپل تلقین باور، د یار د جمال ننداره، له زړه څخه د ماسوای الله او نوروحجابو لیري کول، ټول د حقیقت فعلونه بولي .

مخلص هم په خپله لوړه عرفاني شاعري کي، د حقیقت په باب خورا په زړه پوري بیانونه لري . په یوه غزله کي، حقیقت د اسرارو او ارواوو پوهه ګڼي:

شه دانش پـه حقیقت کښي د ارواحو
چي دانا شي د روحـــانو په صفت ښه

دمخلص په یوه بله غزله کي، شریعت له شپې، طریقت له ستوري او حقیقت له سپوږمی سره تشبیه سوئ دئ :

شریعت مثال د شپې، طریقت ستــوری
حقیقت مثال ځرګند دئ و قمـر ته

بل ځای، د حقیقت مقام د جَبَرُوت له لوړ او ناپایه عالم سره برابر بولي :

طریقت د مَلَکُوت مقام یـاد سوئ
حقیقت د جَبَرُوت مقام حُریــت ښــه

د نور مالومات دپاره وګورئ : شریعت، طریقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، پوهه او عقل .

لمنلیکونه

۱ نیرومند محقق ۶۰.

۲ هجویري ۷۰۵- ۷۰۶.

۳ نسفی، انسان الکامل ۳ .

۴ اسفندیار ۲۸۲ .